# داسرائیلو د استخباراتي شبکې

# MOSSAD) ، موساد )

# پېژندنه

تالیف :
مـولـوي انجینر محمد قاسم سجاد دیـوبـندي
د دیوبندیه اسلامیه مدرسې مهتمم،
د امام ابویوسف رحمه الله جامع مسجد امام او خطیب
لښکرګاه،هلمند ، افغانستان


بسم الله الرحمن الرحیم

# داسرائیلو د استخباراتي شبکي

# (MOSSAD، موساد)

# پېژندنه

# اهداء اوداڅادۍ مبارکي

لومړي سر کښې د (١٤٠٠هــ شــ) کال د( دسنبلې ٩ )داڅادۍ اوخپل وا کۍ مبارکي داسلامي امارت مشرتابه، سیاسیونو، غازیانو، خواخوږو ،محبینو اومعاونینو اودنړۍ ټولو مسلمانانوته وړاندې کوم.

دا لیکنه هغو مسلمانو مجاهدو وړونو اوخویندوته په اسلامي عقیدې او مینې باندې تحفه کوم چې هغوی:

دین، مذهب، سنت، اصلاح، ستر، حجاب، تقوا، اخلاص،

دیني علم، عزت، غیرت، خدمت، جهاد، عاجزي، دعوت اوتبلیغ، اطاعت اوپاک لمنې یې خپل دژوند تګ لاره ګرځولې. اوپر غربي شرمېدلي ،لعنتي، کفري دیموکراسۍ، هندي رواجونو، بدعاتو، غلطو رواجونو، بې سترۍ اوبې دینۍ اوبې اتفاقۍ یې لعنت ویلی اوځان یې ترینه ساتلی دی.

اوخپل ځان ، کورنۍ اوټولنه یې دین اوسنت ته دعوت کړی اودبې لارۍ څخه یې ساتلې ده.

دځان اومال په قربانۍ یې دین ته خدمت کړی ،خپله کورنۍ او ټولنه یې دفحشاؤ اومنکراتو څخه ساتلې، او خپل مسئولیت یې پوره کړی.

اخوکم في الله محمد قاسم سجاد الدیوبندي.

**یادونه** : دهرقسم چاپ ټول حقوق د مؤلف سره محفوظ دي .

## کتاب پېژندنه

دکتاب نوم :....... داسرائیلود استخباراتي شبکې (MOSSAD،موساد) پېژندنه
مؤلف :...........استاذ مولوي انجینرمحمدقاسم (سجاد) الدیوبندي
چاپ چاري......... دیوبندیه اسلامیه مدرسه
دچاپ شمیر:...... زر (۱۰۰۰) ټوکه
داول چاپ نېټه :....... ۲۵/ ۷/ ۱۴۰۰هـ ش

**ادرس** : افغانستان،هلمند ،لښکرګاه ښار درياست معارف جنوب طرف، مدرسة عربية اسلامية دارالعلوم«الدیوبندیة»
جامع مسجد امام ابویوسف رحمه الله .
**دتماس شمېرې** :**واټساپ/** ۰۰۹۳۷۴۵۲۷۰۰۸۸+
اړیکه: ۰۰۹۳۷۰۸۷۴۰۹۷۷+

**سريزه**

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده .

امابعد :الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دې بې شماره حمدونه وي چې موږ ته د اسلام د مبارک دين لارښودنه وکړل او موږ ته يې د علم پواسطه عزت را وبخښی ،د دنيا پر ستر لارښود حضرت محمد ﷺ باندې دې د الله جَلَّ جَلَالُهُ بې شماره رحمتونه وي ،پر هغو ټولو کسانانو دې رحمتونه وي چې د دين د تبليغ لپاره يې هلې ځلې کړي دي ،دا دين يې د جهاد ،دعوت او تبليغ ،تعليم او تعلم ،کتابت او ليکنې او نورو لارو څخه تر عامو مسلمانانو پورې يې رسولی دی ،خصوصًا د ديوبند د مدرسې باني او استاذانو چې هغوی د اسلام حقيقي څيره د عمل په ډګر کښې دنيا ته وښوده ،د بدعاتو او خرافاتو ،کفر او شرک سخته مقابله وکړل تر څو پخپل مرام کښې کامیابه سول ،د ديوبندي عالمانو د خدمتونو احسان هيڅکله يو عقل مند انسان نه هيروي .

لکه څنګه چې مخکنيو عالمانو ډېر خدمتونه د دين د پاره وکړل د دوی دا طريقه تر موږ پورې

را ورسېدله زموږ عاجزانو هم زړه وغوښتل چې خپلو عامو مسلمانانو ته د دين د لارې خدمت وکړو د الله جَلَّ جَلَالُهُ په فضل موږ ته يې دا توفيق راکړی چې د ليکلو د لارې خپلو ورونړو او خويندو ته يو ه تحفه وړاندې کړو چې هغه عبارت د دې کتاب (داسرائيلو د استخباراتي شبکې (MOSSAD،موساد) پېژندنه) څخه ده .

د الله جَلَّ جَلَالُهُ د لوی دربار څخه د دې ناجزه عمل د قبوليت خواست کوو ،الله جَلَّ جَلَالُهُ دې دا رساله زموږ او د مدسې د ټولو استاذانو څخه څخه قبوله کړي الله جَلَّ جَلَالُهُ دې ما او ټولو لوستوونکو ته د نيکو اعمالو توفيق راکړي .آمين

اخوکم في الله محمد قاسم سجاد الديوبندي

١٤٤٣/٣/٣ هـ ق

# لومړی فصل

## داسرائیلو استخباراتي ادارې

د اسرائیلي استخباراتو او امنیتي خدماتو اداره یو وړوکی د معلوماتو واحد دی چي هغه ته (shay) ویل کیږي.
او د یوې غټې خفیه ادارې حیثیت یې ځانته غوره کړی دی.
ددې ادارې کسان په ټوله دنیا کښې د جاسوسي د جدیدو آلاتو په استعمال سره د ډیرو مشکلاتو باوجود خپل وخت تېروي.
اسرائیلي استخبارات او امنیتي خدماتو اداره د دنیا په بهترینه خفیه ادارو کښې حسابیږي.
ددې کارکوونکي د خپلو وظیفوي صلاحیتونو او نوو تخنیکونو سره خپل کارونه فعال ساتلي او دوی دغه وړتیا په په عربي هیوادونو باندي د لاسرسي غټه ذریعه ده.
دا یو تاریخي حقیقت دی چي د اسرائیلو غوندي واړه ملک د منځ ته راتګ ورځي څخه د دوی د زیاتو سیاسي مسائلو ښکارؤ.
او ددوی له پاره دخپل ملک کراړبدل هم لوی چلنج ؤ.
ځکه همدغه وجه ده چي دوی د خپل ملک د بقاء په خاطر په نورو ملکونو کښې دهشت ګردي، تښتونه او نور کمانډویي جایز ګڼي.
هغوی بې شمېره عربي ملکونه ختم او نړیوال قوانین یې تر پښو لاندې کړل.
او خپلو مقاصدو د لاسته راوړلو له پاره یې د نړیوالي ټولني پرواه نه ده ساتلې، د عراق ایټمي مرکز یې بغیر له نیولو څخه ختم کړ.
په (١٩٦٧م )کښې یې په خپلو همسایه ملکونو مصر، شام، اردن او لبنان باندي ناڅاپي حملې شروع کړلې د خپلي غربي برخي څخه یې د غزې او بودان به غرونو قبضه واچوله.
اسرائیلو د ډرامې په شکل د چربورګ نه ګڼي پوستې والوزولې کوم چي فرانسې اسرائیلو ته د ورکولو څخه انکار کړی ؤ.
په (١٩٧٢م) کال کښې میونخ کښې د اولمپیک د لوبو په میدان کښې اسرائیلي لوبغاړو وژنه اوس هم یادیږي، په دې واقعې سره د اسرائیلو د بدلې اخیستني اورتر

او سه پوري نه دې مړ سوی، تر څو پوري چي هغوی ددوی ذمه وار شکمن کسان د دنیا له گوټ گوټ څخه پیدا او مړه نه کړل.

د اسرائیلو لوړ رتبه جاسوس یو ایخمن جرمنی چي د یهودو د قتل عام ذمه دار پېژندل کېدی د ارجنټاین څخه پیدا او د ډیرو سختو مراحلو څخه د تېرېدلو څخه وروسته اسرائیلو ته راویست او له محکمې چلولو څخه وروسته د مرگ سزا ورکړل.

اسرائیل د خپلو ایټمي کارخانو له پاره یورانیم له چاپه اچولو او قاچاق له لاري لاسته راوړل.

که چیري څوک د اسرائیلو د خفیه استخباراتو مطالعه وکړي دا به احساس کړي چي اسرائیلي استخبارات هر چیرته او هر وخت وغواړي خپل وخت تېرولی سي.

په نن سبا سیاسي پلوونو کښې د امریکا د اسرائیلو او هندوستان رابطه ورځ په ورځ ښه کیږي نو زمونږ مرکزي ادارو ته دا په کار دي چي د اسرائیلو استخبارات مطالعه او دهغوی د پټو حملو په وخت یې مخه ونیول سي.

دغه د صیهونیزم نماینده گي د جرمني په په زیورچ د یهودانو په نړیوال کنفرانس کښې منځ ته راغلی. ددې نماینده گۍ د منځ ته راتگ اساسي مقصد د یهودانو د حقوقو ساتنه او په خاص ډول په فلسطین کښې د یهودانو د غټو ابادیو دقوت ساتل ؤ.

ددې صیهونیزم نماینده گۍ له پاره یوه وړه اداره (SHAY) منځ ته راغله ،ددې نه بعد دغه وړه اداره د یهودانو (HAGNAH) د استخباراتو او امنیت مهمه اداره سول.

دغه تحریک په همدغه ورځو کښې د برتانوي امپراطوري په خلاف وه.

همدغه تنظیم ډېر ژر په دنیا کښې د صیهوني گټو په خاطر جال خور کړ.

دجرمني د نازي په خلاف د معلوماتو راپیدا کول ،د یهودانو د پټو کارونو له پاره مدد کول، جرمني جنگي قوت له منځه وړل،د خپلې دفاع په خاطر د صیهونیزم له پاره وسله برابرول او عملیاتو په مهال یې حفاظت کول،فلسطین او همسایه ملکونو کښې په کار خلکو ، جنگیالیو یهودانو سره رابطه او کنترول،په شرقي منځنیو کښې د یهودو خلاف نماینده گیو څارل او معلوماتو حاصلول،

د برتانوي لوړپوړو خلکو جاسوسي کول ، همیشه خبر ترلاسه کول او صیهونیزم مشرتابه خبرول.

د خپلواکه د اسرائیلو دولت منځ ته راتګ له پاره کوښښونو کامیابولو له پاره د نفسیاتي جنګونو جوړول او دهغوی په حق پروپاګند کول.
د همدې شپې او ورځې کوښښونو او د امریکې ملاتړ ددې باعث سو چي بالاخره په ( ۱۹۴۸ م )کال کښې اسرائیل د مستقل دولت په حیث منځ ته راغلی.
ددې نه وروسته دې اداري له پاره یوه دولتي محکمه جوړه سول.
د همدغي اداري برخي عبارت دي له سیاسي استخبارات، ځواب ورکونکي استخبارات او داخلي امنیت دیپارتمنت، د پوځ استخبارات ،د پوځي استخباراتو د پولیسو برخه او امنیت شامل دي.
د اسرائیلو د حکومت د منځ ته راتګ په اوایلو کښې ددې اداري کار داسي ؤ چي هر چا به خپل خپل کارونه سرته رسول.مګر ځیني وختونه به د یو بل خلاف ودرېدل.
په دې وخت کښې خفګان، بې باوري او په یو بل باندي شک پیدا کول لازمي کارؤ.
ددې ادارو په منځ کښې د اړیکو عمومیت داسي ؤ چي دوه یا درو ادارو په بعضي وخت کښې د یو هدف له پاره په ګډه هلي ځلي کولې. د اسرئیلو لوړ پوړو ددې سخت حالت نه دا خبر واخیست چي (۱۹۵۱م) کال د اسرائیلو د وزیر اعظم په هدایت د اسرائیلو استخباراتو نوی ساختار ترتیب کړ چي په لاندې ډول دي:

**لومړی جز**: VAADA - **وادا**:دغه د ټولو ادارو د مشرانو څخه جوړه کمېټه ده چي د بنیادي استخباراتو او امنیت څخه مشتمله ده چي ددغو ادارو عملیات تنظیموي،ددې کمېټې مشر د موساد مشر دی.

**دوهم جز**: MOSAAD - **موساد**:دا د اسرائیلو پټ استخبارات دي چي ددغو کسانو کار په بهرنیو ملکونو کښې جاسوسي او پټ عملیات کول دي.
د اسرائیلو وزیر اعظم مستقیماً ددې برخي مشري کوي.

**درېیم جز**: SHINBETH **شین بیته** :دا ځواب ورکوونکي استخبارات په داخل د ملک کښې بله د امنیت ایجنسي ده چي د کومي مهمه ذمه واري د (VIP)، (VVIP)فوجي مشرانو، سیاست مدارانو،حکومتي لوړ پوړو، صنعتي ځایونو، د اسرائیلو هوایي برخه بندرونه، بهرنیو ملکونو او د اسرائیلو د سفارتونو حفاظت کول دي.

دغه برخه په داخل او خارج کښې خپلې وظیفې مخ ته وړي.
ددغې مشر هم د اسرایلو وزیر اعظم دی.
**څلورم جز** :**فوځي استخبارات** :ددې ادارې هدف د فوځي عملیاتو په اړوند عمومي بریښنایي رپوټونه حاصلول دي.
دغه ملي استخبارات کولای سي چي تخمیني رپوټونه هم تیار کړي.
ددې استخباراتو مشر د فوځ مشر دی چي په نورو محکمو کښې د اسرائیلي استخباراتو سره کمک کوي.
په دې برخه کښې تحقیق او حکومتي پلان جوړوني مرکز ،د بهرنیو اړیکو وزارت او د پولیسو خاص وظایف شامل دي،چي د کومي وظیفې تفتیش کول دي.
سرحدي پولیس، د مالیې وزارت فوج (EIAI) ،د اسرائیلو ملي هوایي کرښې (ZIN) ، د صیهونیزم تنظیم او په خارج او داخل کښې یهودي او سیدونکي خلک شامل دي.
د اسرائیلو د استخباراتو دغه سازمان د یو څو محدودو تبدیلیو سره وچلید .
د (۱۹۷۳م) کال د اکتوبر د روژې جنګ کښې د اسرائیلو استخبارات د خاصي ناکامۍ سره مخامخ سو. ددې ناکامۍ د څېړني له پاره چي د (۱۹۷۳ م) کال د نومبر په میاشته کښې یوه عضوي غونډه جوړه سول چي د هغه په تفصیل کښې ددې ناکامۍ او اسرائیلو استخبارات او امنیت کار معلومات واخیسته او لاندي وړاندیزونه یې وکړل:
یو مشاور چي د خارجه چارو وزیر کارونه جوړ کړي، د استخباراتو او امنیت په رپوټونو پوه او ددغه رپوټونو په هدف پوهېدی او د هغه څخه ددغه برخو د عملیاتو اندازه لګول او وزیر اعظم ته ددې برخي د معلوماتو خلاصه کولو لیاقت ولري (جنرال راها وام زیوي) د اسرائیلو دوزیر اعظم لومړنی استخباراتي مشاور ؤ.
په موساد کښې باید یو د تحقیق واحد جوړ سي کوم به چي د وړاندویني کار کوي او د اسرائیلي استخباراتو څخه بیل سي.
په وزارت خارجه کښې یو حکومتي دپلان جوړوني مرکز جوړ سي چي خاصه رابطه یې د موساد سره وي او عمومي اړیکي یې له ټولو ادارو سره وي.
دغه وړاندیزونه ددې په خاطر وي چي د فوځي استخباراتو باندي پوره باور باید ونه سي بلکي یوه بله اداره هم ددوی کار تر څار لاندي وساتي.

ددې خدمتونو د يو ځای کولو له پاره بايد يوه اساسي اړيکه وجود ولري. او مختلفو ادارو په واسطه تيار سوي رپوټونه او وړانديزونه يو بل ته ونه ښودل سي.
او دغه رپوټونه مختلفو ماموريتونو او وزيراعظم ته وليږل سي.
ددغه وړانديزونو په نتيجه کښې زيات تبديلونه منځ ته راغلل او په زياتو ځايونو کښې ځوانان په کار وګومارل سول او په (۱۹۷۷م) کال د امنيتي چارو کمېټه هم جوړه سول.
**پنځم جز** :**انتظاميه** :د مختلفو عملياتو د پټو ساتلو له پاره او په خاصه توګه خارجي برخي پټو ساتلو وزارت دفاع او (IDF) ددې برخي معاونت کوي.
اصلًا خارجي برخه باندي نظر کوي او هغه همېشه پټ ساتي.
ددې معلومات يو ازې د وزارت خزانې يو څو لوړپوړو چارواکو ته وي.
ددې مشر هر کال په دې برخه کښې اصلاحات کوي چي ملي شتمني په صحيح صداقت او ايمانداری سره مصرف کړي.
او د هغه د صحيح او غلط استعمال رپوټ تيار کړي.
پدې ليکنه کي موږ فقط د موساد موضوع څيړو:

## دوهم فصل

## داسرائيلو د استخباراتي شبکې (موساد) پېژندنه

د موساد مکمل نوم: The Institute For Intelligence and Special Service

د اسرائيلو استخباراتي فعاله او مخفي شبکه ده، چي د نړۍ په ډيرو هيوادونو کښې مخفي فعاليت کوي.

دد ا د ټولو مخفي ادارو څخه فعاله اداره ده يعني د روسې ، برتانې او د امريکې د استخباراتي ادارو څخه فعاله اداره ده .

د ټولو استخباراتي شبکو څخه ډېره مغلقه او پيچيده ده .

کله هم چي دا استخباراتي شبکه کومک د نورو استخباراتي شبکو څخه وغواړي هغوی د هر رقم خدمت ته ورته حاضر دي .

په ټوله نړۍ کښې د صنعتي اود فني رازونو په افشاکولو کښې اول نمبر دی .

د دې استخباراتي شبکې د کاميابېدلو وجه په دې کښې ده چي د نړۍ په هرکنج کښې يهود وي دوی سره کمک او جاسوسي ورته کوي.

د دوی فکر او نظر دادی چي موږ د منځني ختيځ په زړه کښې يو او موږ بايد د نړۍ د مخکي او وروسته حالاتو څخه باخبر واوسو او د هغه يهودانو راويستل چي په مشکل کښې اخته دي که د دنيا په هر ځای کښې وي او د نړۍ هر يهودي چي هر ځاي کښې وي کمک ورسره کول د دوی مهم اهداف دي. ددې اهدافو تر سره کولو په خاطر د موساد ادارې ډيرو جاسوسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .

دې استخباراتي شبکې چي په نيا کښې کوم وحشت ګډ کړی دی بلې يوې استخباراتي شبکې ندي تر سره کړي.

دوی د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د هر رقم دهشت ګردي څخه کار اخلي .
په نړۍ کښې دوه نړیوال جنګونه هم د دوی له لاسه وسول، چي (۸۰) اتیامیلونه افراد پکښې مړه سول او (۵۰) پنځوس میلونه پکښې معذور سول، دا ټول د یهودو کارؤ ، د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر .
د ډیرو غربي او عربي ممالکو د بادشاهۍ چوکۍ اړولي دي چي په (۱۹۶۷م)کال کښې په مصر ، شام ، لبنان او د اردن باندي حملي دي .
موساد د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر د قتل ، وحشت ، اختطاف او دهشت ګردۍ څخه کار اخلي .
د موساد مشر په هره غونډه کښې د یهودو صدر اعظم سره ویني او د یهودو صدر اعظم ته ځواب ګویه وي.
د اسرایلو سیاسي قیادت د موساد استخباراتي شبکې سره تړلی دی .
او د موساد مشر د یهودو د صدر اعظم لخوا د (۵) پنځه کلو لپاره مقرر کیږي .

## دریم فصل

## د موساد په استخباراتي شبکې کښې د کار کولو شرائط

۱. متوسط شکل او قواره درلودل .
۲. د ظاهري شان او شوکت څخه باید بې برخي وي.
۳. په دې باندي باید فخر وکړي چي زه یهودي یم .
۴. د لوړي زده کړي خاوند او تېز دماغی وي .
۵. د جرأت او دلاورۍ یوه نومونه وي .
۶. باید ذهین او باصلاحیته وي .
۷. ښځه وي او که سړی باید با صلاحیته وي .
۸. د مضبوط جسم مالک وي .

کله چي دی خپل عضویت په موساد کښې واخلي نو لاندي تربیه بیا ورکول کیږي :
۱. خپل کار دوه پیري په هفته کښې کتل ، د ضرورت په وخت کښې دا کار سرعت هم پیدا کولای سي .
۲. په هر ځای کښې چي وي خپل اجرا ات به کوي .

۳. تنخوا کمه او کار به زيات وي .
۴. د دنيا د ټولو عياشيو څخه ورته زړه پاکوي .
۵. کوډونه ورته وايي او د دنيا مختلفي ژبې ورته ورزده کوي .
۶. د ذاتي دفاع لپاره ورته طريقې ښودل کيږي .
۷. همدارنګه د ياداشتونو ټستونه اخيستل کيږي چي په دې کښې ډېر کم افراد کاميابيږي .
۸. دهغه چا سره چي دی ملاقات کوي هغه مقابل لوري څرنګه د خپلو خبرو څخه متاثر کړي دا رقم خبري ورزده کوي .
۹. په خاصه توګه د مذهب تعليم ورکوي .
۱۰. کوم ملک ته چي ځي د هغوی په رقم ځان جوړول .
۱۱. هدف ته د رسېدلو په خاطر واده هم کولای سي .
۱۲. په دې باندي بايد فخر وکړي چي زه يهودي يم .
۱۳. د اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر د خپل ژوند څخه به هم تيريږي .
۱۴. د ښه کار په کولو سره درجه بندي کيږي .

په شروع کښې اسرائيلو د يوې وړوکي استخباراتي شبکې (SHAY) په نوم کار شروع کړ خو ولي وروسته يې په ډېره غټه سطحه باندي يې خپل استخباراتي کارونه شروع کړل .

موساد ډېر حساس کار کوي او په ډېره حساسه تيکنالوجي باندي سمبال دي .
په هر رقم حالاتو کښې د خطر سره مقابله کولای سي او عمليات هم کولای سي .
په نوي دور کښې موساد د دنيا په هر ځای کښې وجود لري .
او دوی په هر وخت کښې او په بار بار بين المللي قوانينو خلاف ورزي کړې ده او کوي يې .

## څلورم فصل
## دموسادمينځته راتګ

په (۱۹۲۹م) کال کښې په جرمني کښې د زيورچ په نامه باندي د يهودو يو پارلمان جوړ سو نو په دې پارلمان کښې د دې استخباراتي شبکې قيام هم منځته راغلی .

په دې وخت کښې ددې استخباراتي شبکې دوه مقاصده وه :

۱. د يهودانو د حقوقو حفاظت کول .

۲. په فلسطين کښې د يهودانو د اکثريت سره کمک کول تر څو قوت پيدا کړي .

(SHAY)ددې تنظيم يعني د موساد يوه برخه وه خو وروسته د يهودو د ځمکي لاندي تحريک( SHAY . SAGANAH )د دې تحريک د استخباراتي شبکې او ددې تحريک محافظت اداره وګرځېدله .

په هغو ورځو کښې (SAGANAH )د برتانې د حکومت په خلاف چلول کښې وه .

دغه تنظيم په ټوله دنيا کښې خپل جال اچولی دی چي د دې تنظيم خاص اهداف په لاندي ډول دي :

۱. د نازيانو د جنګونو مخنيوی او د هغوی ناکامول .

۲. خپلو يهوديانو ته اسلحه ورکول او د جنګ په دوران کښې دوی سره مرسته کول .

۳. په فلسطين او په نورو عربي ممالکو کښې د اسلامي ګروپونو سره رابطه کول او هغوی کنټرول کول ددې کار وه .

۴. د بعضو عربي مشرانو سره رابطه ساتل او د هغوی د مزدور په طور باندي کار کول او په ظاهره ډول ځان د يهودو سره مخالف کول تر څو په دې سره ځان ور ته نژدې کړي او د هغوی معاوينيت ترلاسه کړي او د هغوی څخه حکومتي معلومات ترلاسه کړي.

۵. د برتانيې د حکومت جاسوسي کول او د هغوی د کارونو څخه دوی هر وخت خبرول.

۶. دذهني فشار لاندي راويستل او د ازادو پروپاګنډو د جنګونو په اړه د اسرائيلو خودمختاري د دوی په اهدافو کښې شامل وه .

## پنځم فصل
## د اسرائیلو مینځته راتګ

د دې ادارو د کوښښونو له امله او د امریکا د حمایت له امله په (۱۹۴۸م) کال کښې اسرائیل مینځته راغلل.

ددې ځخه وروسته دې ادارې رسمي کار شروع کړ، په دې ادارې کښې لاندي ښاخونه شامل دي:

۱. دسیاسي او استخباراتي روزني اداره.
۲. کاونټر انټیلي جینس اینډ انټرنل سیکورټي ډیپارټمنټ.
۳. فوځي او استخباراتي شبکه.
۴. فوځي او استخباراتي شبکه د پولیسو بخش.
۵. د استخباراتي او حفاظتي تعادل.

د اسرائیلو د قیام په وخت کښې هر ي ادارې به خپل خپل کارونه کول، خو لیکن وروسته یو د بل په کارونو کښې مداخله هم کوله یعني د یو کار د پیدا کېدلو لپاره به درې ادارې د هغو پلټڼه کوله.

باید په یاد ولرو چي اسرائیل د موساد ځخه علاوه نوري استخباراتي شبکې هم سته دي چي د هغې د جملې ځخه ( Shin Beth )، ملټري استخباراتي شبکه او داسي نوري استخباراتي شبکې لري.

## شپږم فصل
## د حکومت او پټو ادارو اړیکي

ددې خبرې یقیني کول چي امنیتي خدمات د ټولو عملیاتو پلانونو ، د وزیراعظم خبرول ټولي ادارې د خپلو مقصدونو او وړاندوینو څخه وزیراعظم دغه رهنمایي کوونکی کس یو کارنده شخص وي. وزیراعظم مرسته ددې استخباراتي رهنمایي کولای سي.

هغه صرف رپوټونو نه ځان نه خبروي بلکي وزیراعظم ته تازه معلومات برابروي او خبروي یې.

او همدارنګه د مختلفو ادارو د خپل منځي غلط فهمۍ څخه ځان خبروي،

پټي استخباراتي ادارې د وزارت خارجه سره نژدې رابطه ساتي ، په عامه توګه په لوړو سفارتي وظایفو باندي خفیه کسان او هغه کسان مقررېږي چي تخریبي اعمالو تجربه ولري.

او په خاصه توګه دغو ځایونو کښې هغه کسانو ته ترجیح ورکول کیږي چي اسرائیلي انتظامیه کښې یې کار کړی وي.

دغه سفیر صرف په ملک کښې دغیر دولتي سفارتخانو کښې د خپلو پټو جاسوسانو ساتنه کوي بلکې په خپله هم د پټو عملیاتو مشري په غاړه لري.

په خارجي خدماتو په برخه کښې چي کوم افسر د کومي سفارتخانې معلومات حاصل کړي نو فوراً دا استخباراتو د عملیاتو برخي ته استول کیږي، ترڅو هغوی د راتلونکي له پاره لایحه جوړه کړي.

همدارنګه په دولتي او خصوصي صنعتي کمپنیو کښې هم مدیر د یو خفیه مدیر په حیث خپله وظیفه په مخ وړي.

## اووم فصل
## د عوامو او خفيه ادارو اړيکي

د اسرائيلو د دوام په خاطر اسرائيلي ملتونه او پټي اداري دواړه يو ځای کوشش کوي او خپل جغرافيايي حدودونو ساتنه نه يوازي دولت بلکي عوام هم ددې ساتنه خپله ايماني وظيفه ګڼي.
او ملي استحکام له پاره خلک د خپلو فرايضو اداکولو له پاره دې ادارو ته لاس ورکوي.
دغو ادارو د عوامو په فکرونو کښې ځکه زيات عزت او اهميت حاصل کړی چي د عربو د مسلحو کوښښونو له پاره ددې ادارو کسانو خپلي ملي جذبې خپل فرض ادا کړی دی.
دغو ادارو دنيا په هر ګوټ کښې چي څومره سخت کار دی د صيهونيزم د ګټو په خاطر ترسره کړی. ځکه د اسرائيلو د هر سړي په زړه کښې ځای لري او هرڅوک هم دغه اداري خپل ساتونکي شميري.

## اتم فصل
## کارکولو مهارت

څرنګه چي ترمخه وويل سول چي په دغه ادارو کښې په لوړو بستونو هغه خلک مقررېږي چي زياته تحصيل او کارکولو مهارت ولري او ددوی په انتخابولو کښې دوی لوړ کردار وطن دوستي او د صيهونيزم مقاصدو په خاطر ځان قربانول دي همدغه سلسله د دوهم جنګ څخه وروسته نسل نه نسل ته د ميراث په توګه روانه ده.
دغه خلک زيات تعليم يافته، په څلورو او زياتو ژبو رواني خبري کوي او د پټو عملياتو تجربه لري. په دغو ادارو کښې د عمر قيد نه سته کله چي يو کس په دې کښې مقرر سي بيا استعفاء نه سي ورکولای.
دا اداري د ځوانانو مقررولو له پاره ځوانان له سختو مشکلو پړاوونو څخه تېروي ترڅو دکار مهارت پيدا کړي.
د نورو لوړو تعليمونو په خاطر يې نورو خارجي هيوادونو ته هم ليږي چي پټ عملياتو مهارتونه زده کړي ځکه خلک د نورو ادارو په نسبت اهميت ورکوي او په دې برخه کښې د ځوانانو د انتخاب په اړوند تفصيلي توګه څېړنه کيږي.

کله چې یو کس مقرر سي دی او دده بست ډېر پټ ساتل کیږي دغه راز اداري تر دې حده وي چې دهغه خپلوان او حکومتي چارواکي هم دهغه وظیفې په اړوند نه پوهیږي.
په دغو کارونو کښې دومره احتیاط کیږي چې دهغه یهودي نوم بدل سي او په انگریزي نوم ونومول سي چې په دې سره دده پېژندنه دنورو له پاره ډېره سختیږي.
هغه څوک چې د خدمت کولو مهارت ترلاسه نه کړي په هیڅ قیمت په دې ادارو کښې نه سي داخلېدلای.

## نهم فصل
## داور او وینو لوبه

داسرئیلو او امریکادوستي دچلاکي پیشو او نادان موږک په شان دي، د اسرائیلو استحباراتي ادارې موساد څوځلي امریکایان د خپلو گټو لپاره استعمال کړي او په مهارت سره یې هغوی غولولي دي.
امریکایان هم عجب قوم دی چې دوی هر وخت غولوي.
امریکا پدې هم پوهیږي چې یهود هر چیرته چې وي د خپل اسرائیلي ریاست د خدمت لپاره هره لحظه تیار وي او په امریکا کښې اوسیدونکي یهود د امرکا ډېر پټ رازونه غلا کوي او د موساد ایجنټانو ته یې رسوي مگر بیا هم امریکا په هر میدان کښې د اسرائیلو ملاتړ لپاره تیار وي.
د موساد یو پخوانی ایجنټ (وکټراوسټروسکي )په خپل کتاب
( Decenberf= By way of Deception )ایجنټ (وکټراوسټروسکي)په خپل کتاب کښې ړاد ایجنټانو ته یې رسوي ،هره لحظه تیار وي چې دخپلو گټو لپاره استعمال کړي او په مهارت سره یې د موساد ځیني کړني یې افشا کړیدي.
نوموړی لیکي ریاستي دهشت گردي د اسرائیلي حکومت بنسټیزاو مهم عنصردی.
موساد د اسرائیلو د بهرنیوچارو وزارت پالیسي کنترول کوي اود بهرنیو چارو وزارت دا جراءت نسي کولای چې د موساد حکم نه سرغړونه وکړي اویا یې د لاربښونو برعکس فیصله وکړي.
کله چې د موساد منځته راغلی د هغه وخت نه په سل هاؤترورستي کړني یې ترسره کړیدي.

امريکا، انګلستان، فرانسه او نورو هيوادونه يې غولولي دي.
فکر وکړئ په داسې نړۍ کښې چې هلته د اسرائيلو وجودنه وي ايا د نړۍ به پر سکون خوشحاله او دوستانه چاپيريال په نظر درنه سي ؟په نړۍ کښې موجوده زياتره ناوړه کړني که په غور سره يې مطالعه کړو نو معلومه به سي چې سرچينه يې اسرائيل دي، په نړيوال سياست کښې کوم بدي کړني چې د مسلمانانو خلاف دي شايد منشا يې له دوی څخه اخستې وي.
د اسلام سره دوښمني د يهودو د ايمان يوه برخه ده او فلسطينيان خپل ازلي دوښمنان ګڼي.
د شپږو لسيزو څخه زيات وخت کيږي چه اسرائيلو فلسطين اشغال کړی دی او فلسطينيان در په در ګرځي .
د موساد وحشيان په هر ځای کښې په فلسطينيانو پسې دي او د هغوی حرکاتو او سکناتو نه پوره نظارت کوي .کوم فلسطيني مجاهد چې د انصاف او مورني وطن د ازادۍ لپاره هڅه او هاند کوي نو هغه د موساد خاص نښانه وي.
د موساد لوړپوړي ايجنټان زياتره وخت په دې تلاش کښې وي چې په فلسطيني اوسيدونکو کښې داسې مخبر پيدا کړي چې د فلسطيني مجاهدينو مهم اهداف ،پروګرامونه او نور فعاليتونو خبر موساد ته ورسوي.
د مخبر د استخدام لپاره ډيري طريقې دي اول خو دضمير خرڅونکو پلټنه کوي چې کم او زيات په هر هيواد او قوم کښې پيدا کيږي او لږو پيسو په مقابل کښې خپل ملګري د دښمن په لاس کښې ورکوي.
ځيني خلک خو د ښځو او شرابو په مقابل هم استخداميږي.
موساد په غربي هيوادونو کښې پناه اخستنه غواړي ،هغوی ته هم اختار غولوني او يا هم په نورو طريقو سره د اختار ورکولو کوښښ کيږي.
فلسطيني مجاهدين چيرته چې ونيول سي نو د موسا د جاسوسان د ښکاري سپيو غوندې په هغوی پسې وي او په ګرمو صحراو کښې د څو ورځو لپاره يې هغوی په منډه کړي وي.

کله چې ښه ستړی سي نو بیا یې د ښکار څخه خوند اخلي او د یو څو پښتنو په لړ کښې یې نیسي او ځان سره یې بیایي .تل اویو ،ته نژدې نیززیونا کوچنی ښار ګوټی دی چیرته چې د پلټنې یو مرکز دی ویل کیږي چې دې ځای ته کوم شخص راوړل سوی دی تر اوسه پوري بیا ژوندی ندی راوتلی .

په حقیقت کښې دا یو اتومي مکروبي او کمیایي وسلو څېړن ځای دی او په مجاهدینو باندي یې دلته د خپلو وسلو مختلفي تجربې کوي او د هغې فایده معلوموي .

ددغو تجربو لپاره د فلیسطینیانو نه ارزانه انسان اسرائیلو ته نور چیرته پیدا کیږي؟

جنوبي افریقا کښې د جوهانز برګ نه بیرون د سوتیو ښارګوټی دی هلته د برګوا ناته روغتون کښې یو ازي تورپوستي او سیدونکي د علاج لپاره ځي.

دغه روغتون وني منډیلا او بشپ ډسمنډ ټوټو د اوسېدلو ځای ته ډېر نژې دی او د بالتې مور روغتون ته دوی مرسته کوي،دلته ځیني یهودي ډاکټران د انساني همدردۍ په توګه خدمات سرته رسوي په حقیقت کښې دوی دلته مکروبي دواګاني بې دریغه تجربه کړي دي او څو مریضان یې د تجربې په توګه استعمال کړي دي او په هلاکت یې رسولي دي،معلومه ده چې هغه داسي تجربې په خپلو اسرائیلي روغتونونو کي نسي کولای .

اوسټروسکي لیکي چې اسرائیلو په نړیواله سطحه باندي امریکایان ډېر ځله د خپلو مفاداتو لپاره استعمال کړي دي او احمقان یې ترې جوړ کړیدي .

امریکا تر اوسه پوري د اسرائیلو په سیاست غولیږي مګر تر اوسه پوري کوم درس ترې وانه خیسته.

فبروري (۱۹۸۶م) کال کښې اسرائیلو په لیبیا کښې ټراجن هارس عملیات شروع کړل، اسرائیلي استحباراتي استازو د ټراجن په نوم یو وایرلیس ترپولي د الجمهوریه د کوڅې په یو تعمیر کښې په ډېري چالاکۍ سره نصب کړو ،د اسرائیلو د ذاتي جنګ ماهر په سمندر کښې ځای پرځای سول او د جنګي کشتۍ نه یې پیغام نشرکوو چې هغه به ټراجن دوباره خپرولود تراجن وایرلیس په هغه فریکونسي باندي پیغام نشرکوو چې د لیبیا د حکومت وایرلیس سیټ فریکونسي وي او امریکایي بحري کشتۍ دغه پیغامونه ریکاډ کول،له دغو دروغجنو پیغامونه څخه داسي معلومېدل چې لیبیا د خپلو بهرنیو دسفارتي کارکونکوته داسي لارښوونه کوله چې په فلاني ورځ په فلاني ځای کښې

تخریبي کارونه ترسره کړئ، بیا به په ډیري چالاکۍ او هوښیارۍ سره دغه قسم خبر به دموساد جاسوسانو په مختلفو هیوادونو کښې د امریکا سفراتي کارکونکوته رسول کله به چي د امریکې (CIA) دغه راپور تحلیل او تجزیه کړونو ریښتیا به یې ګڼله او د امریکا یانو څخه په دغه بنیادي خبره نه پوهېدل چي هیڅ یو هیواد هم خپل خفیه تخریبي احکام په وایرلیس باندي نه نشر کوي.

د لیبیا سره دوښمني امریکا دایې په سترګو ړانده کړه چي د تورو او سپین فرق یې نسو کولای او په نتیجه کښې په (۱۴د اپریل ۱۹۸۶م)کال کښې امریکا (۱۶۰) طیاروتقریبًا (۶۰)ټنه مختلف ډوله بمونه د تریبولي په هوايي میدان، باب الخریز بیرک، سدي بلال، نیول بیس، بن غازي ښار او د ډګروال معمرقذافي په کورباندي وغورځول چي لدینه د ډګروال قزافي لور او (۴۰) شاواخوا نور بیګناه ښارایان ووژل سول.

د موساد ایجنټانو دټروجن هارس عملیاتو په کامیابېدلو باندي د خوښۍ نغارې وغوړولې، او د امریکا یانو په غولولو باندي یوبل ته مبارکي ورکړل.

لدې عملیاتو څخه اسرائیلو ته درې هدفه په لاس ورغلل :

اول دا چي ډګروال قزافي یې تخریبکاره وښوداو په نړیواله سطحه یې هغه د مفاهمت د مشاورت له معیارو څخه خارج کړ.

دوهم دا چي د حزب الله سره خبري اتري یې قطع سولې چی له دې څخه به د امریکا عرب اسرائیل پالیسي په واضح ډول د اسرائیلو په ګټه راسي.

دریم دا چي د موساد د استازو حوصلې لوړي سوې چي د امریکا په شان طاقت هم د اسرائیلي ګټو لپاره استعمالوي.

د موساد جاسوسان د (CIA)د جاسوسانو په موجودګۍ کښې په ډېر مهارت سره سریلنکا ته وسلې لیږي، اسرائیل په یو وخت کښې د سریلنکا ځواکونه ته او تامل پړانګانو (تامل ټایګرز)ته وسلې لیږي.

د دوی دا هڅه ده چي جګړه دوام پیدا کړي تر څو دوی زیاته وسله خرڅه او ډیري پیسې لاسته راوړي. داسي معلومیږي چي په سریلنکا کښې هم په امریکایانو باندي سترګي تړلي دي.

په سیاسي ډګر کښې د اسرائیلو دا موقف دی چي فلسطین داسرائیلو مسئله نده څنګه چي د اوردون (۷۵٪ )فیصده ډېر نفوس په فلسطیني او سیدنکو جوړه وي ځکه نو پاتي فلسطینیان هم باید اوردون ته لاړسي هلته میشت سي .

اسرائیلو د شاه حسین د حکومت د کمزوره ولو لپاره جعلي بانک نوټونه چاپ او بازار ته وړاندي کړل، ځیني مذهبي سخت تریزو تنظیموته یې وسلې ورکړلې او نامتو نامتو مشران یې ترې وواژل،او دغه ټولي چاري د امریکایانو په موجوده ګۍ کښې ترسره کړي .

عراق او ایران ترمنځ جګړه د اسرائیلو له خوا او د دوی په هڅو باندي اوږده کړل سول، ترڅو دوی : خپلي وسلې پرې خرڅي کړې .

د اسلامي نړۍ ځوان نسل وځپل سي .

تر څو د اسلامي هیوادونو اقتصاد وده ونه کړي او وروسته پاتي سي .

او اسلاي نړۍ ځانته تابع کړي .

همدارنګه د عراق په مورد موساد غربي متحدینو ته غلط راپورونه ورکول ترڅو هغوی صدام حسین داسی ثابت کړي چي هغه زهري او اتومي وسلو په جوړولو اقدام کړی،چي په نتیجه کښې غربي نړۍ د عراق په خاوره باندي یرغل وکړو او صدام حسین حکومت یې له منځه یوړاو عراق یې اشغال او بیایې د عراقیانو په منځ کښې د شیعه او سني په نامه تفرقه واچوو له ترڅو خپل اشغال ته دوام ورکړي او په نتیجه کښې د عراق څخه نفتي مواد غلا کړي او خپل اقتصاد یې پرې قوي کړ .

## لسم فصل
## د یهودانو د وحشت او بربریت څو مثالونه

په دې ورو کې کتاب کښې دومره ځای نسته چې د یهودانو ظلمونه او وحشت ته په پوره ډول ځای ورکړو مونږ دلته صرف د نمونې په ډول یو څو جرائموته اشاره کوو .

۱: د یهودانو د جرمونو او ظلمونو په لړ کښې یو ظلم د (دیریاسین) د خلکو سره ؤ دا د ( ۱۹۴۸م) کال واقعه ده چې د اپریل په میاشت کښې واقع سول، په پورتني تاریخ په دغه کلي یهودانو یرغل وکړچې په نتیجه کښې (۳۰۰) درې سوه فلسطینیان چې اکثره یې ښځې ، ماشومان او بوډاګان وه په ډېره بې رحمۍ سره لکه د میږو (ګډو) په څېر ذبحه کړل او بیا یې د هغوی جسدونه څاګانو ته وغورځول .

ددې لپاره چې په خپل وحشي ظلم پرده واچوي.

د حامله ښځو ګېډې یې څیرې کړلې او ماشومان یې ترې راوویستل، ماشومان به چې په لاره ورغلل په هغوی به یې خپله نښه پخوله ددغه بې ګناه او معصوم روحونو په قتل یې خپله تنده ماته کړه .

ددغه ناکاره عمل نه یې وروسته د نوموړي کلي یو شمېر ښځې او پیغلې ونیولې په خپلو موټرو کښې په خپلو محلونو کښې ورباندې مارش وکړ، ددې وروسته سې یو شمیر پیغلې نجونې ونیولې د ځانو سره یې بوتلې په خپلو کوڅو کښې ورته په مخونه لاړې توف کړلې او کله چې ورته د واپس تلو حکم وکړ نو وویشتلې په دیر یاسین کښې چې یهودانو څه کړي دي دا د هغې یو مثال ؤ .

۲ :یهودانو سربیره ددغه ډول جنایتونو نه زخمیان هم وژل ان تردې چې په روغتونو (هسپتالو) کښې په زیات شمېر هغه ډاکټران او نرسان هم قتلول چې چا به د زخمیانو تداوي کوله .

ددې نه علاوه یهودانو دهسپتالونو سامانونه لوټ اوتالا کړچې په همدې لړ کښې د ډیرو فلسطینیانو کورونه هم لوټل او هغوی به یې د کورونو پرېښودوته مجبورول.

۳: کله چې یهودانو د فلسطین د (لد) په ښار ګوټي یرغل وکړ او هغه یې ونیوی نو څلور زره (۴۰۰۰) مسلمانان یې مسجد ته راجمع کړل .

درمضان میاشت وه د تولو خلکوروژې وې د غه خلک یې تر دوه ورځو پورې وږي تږي وساتل کله چې مسلمانانو د اوبو غوښتنه وکړه نو یهودانو ورته اوبه راوړې او د هغوی په مخکې یې پکښې متیازې (بولې) وکړلې او بیایې هغوی پر څکلو مجبور کړل.

۴: د (لد) او (رمله) ښارونه مسلمانان یې تر دوه ورځو پورې وږي تږي وساتل بیا یې د هغوی څخه زیات شمېر قتل عام کړل او باقي پاتې کسانو ته یې حکم وکړ چې (۱۵ )پنځلس دقیقو کښې د ننه د واړو ښارونه خالي کړئ، د ښارونو څخه د تېښتې په وخت یې پر هغوی یرغلونه او پیرونه کول چې (۲۰۰۰) دوه زره کسان یې نور شهیدان کړل یهودانو نه یوازې د فلسطینیانو قتل عام وکړ بلکې د هغوی کورونه یې لوټ کړل او بیا یې کورونو ته اور واچوه.

**لومړی جز**: **دیهودانو په بندیخانو کښې د فلسطیني مسلمانانو زورول**: یهودانو د فلسطیني مسلمانانو د کړولو ، زورولو او شکنجه کولو لپاره داسې ډول زندانونه جوړ کړیدي کوم چې نازیانو د یهودانو د کړولو لپاره جوړ کړي وه.

په دغه زندانونو کښې یهودان د مسلمانانو بندیانو سره ډېر وحشیانه سلوک کوي، هغوی په کوتکو وهي تر څو چې د وهلو لاندې بې هوشه سي بیا ورباندې یخې اوبه ورواچوي.

کله چې په هوش سي نو بیا ورباندې پورتنې عمل تکراروي، د بندیانو لاسونه او پښې په مضبوطه رسۍ وتړي او پر دیوال یې راځوړند کړي بیا ورته دوچې ډوډۍ ټکړې وړاندې کښېږدي او ورته د خوړلو حکم وکړي هغه بیچاره ځنګه او په څه یې وخوري چې په همدې جرم هغه په وهلو وهلو خپل روح الله جَلَّ جَلَالُهُ ته وسپاری.

**دوهم جز**: **په فلسطیني بندیانو خطرناک ساینسي تجربات**: د فلسطیني ټایمز اخبار د خپروني له مخې یو رپوټ کښې راغلي وه چې د اسرائیلو نظامي قوت په هغه فلسطینیانو باندې ډېرې خطرناکې تجربې کوي کوم چې په بندیخانو او په نظر بند کیمپونو کښې پراته دي.

نوموړی اخبار زیاتوي په هر کال (۱۰۰۰) ډوله دواګانو تجربې په همدغه بندیانو ترسره کیږي او په همدې اړه یې زر پر متهونه اجازت نامې د دوا سازي کمپنیو ته ورکړي دي چې د ځناورو پر ځای په همدې بندیانو باندې خپلې ساینسي تجربات ترسره کوي.

**دريم جز: د پنځه لکه فلسطينيا نو بند يانول** :انټر نيشنل سالېډ يريټي رايټس په خپل رپوټ کښې وايي د (١٩٦٧) نه تر (١٩٨٧) ميلادي پوري يعنې د (٢٠ )کالو په دوران کښې (٥٣٥٠٠٠) پنځه لکه پنځه ديرش زره فلسطينيان د اسرائيلي ير غلګر حکومت لخوا په ظلم او ناحقه سره نيول سوي او کړول سوي چه اوس هم د څلور زره نه زيات فلسطينيان د اسرائيلو په بنديخانو کښې پراته دي نو موړی مؤسسې د ځينو نيول سوو فلسطينيانو شمېر په لاندي ډول ذکر کړيدي :

١: د (١٩٨٧) نه تر (١٩٩۴) ميلادي کښې يعنې د انتفاضه تحريک په دوران کښې (١٧٥٠٠٠) يو لک پنځه اويا زره فلسطينيان بنديان سول.

٢ : په (١٣) دسمبر په (١٩٩٣ م)کښې د اوسلو د معاهدې د لاسليک نه وروسته (١٢٥٠٠) فلسطينيان ونيول سول .

٣ : دمی په (۴) په (١٩٩۴) تاريخ باندي چه کله د اوسلو په معاهده باندي ددوهم ځل لپاره په قاهره کښې لاسليکونه وسول د هغې نه وروسته (١٠٥٠٠) فلسطينيان ونيول سول .

۴ : په (٢٨) ددسمبر په (١٩٩٥م )کال باندي د طا با د معاهدې د لاسليک نه وروسته (۶٠٠٠) شپږ زره فلسطينيان ونيول سول .

۵ : اسرائيلو چه کله په (١٩٦٧م) کال باندي په مغربي کناره او د غزې په تړانګه باندي قبضه وکړه د هغې نه وروسته (١١۴) فلسطينيان د يهو دانو په بنديخانو کښې په شهادت ورسېدل .

۶ : يوسف جبالي لمړی فلسطيني ؤ چي د جوناس په مرکزي جيل کښې د تفتيش او ګرويږوونو پرمهال شهيد سو .

٧ : اته سوه (٨٠٠) فلسطينيان داسي دي چي په هغوی د عمري بند سزا خپژولې ده .

٨ :علاوه د فلسطينيانو نه د لبنان ؛ شام ؛ اردن ؛ مصر ؛ الجزاير ؛ ليبيا ؛ سوډان ؛ عراق (١٨۶) مسلمانان د اسرائيلو په جيلونو کښې پراته دي.

**څلورم جز: د بندیانو مرۍ د برمې د ماشین په وسیله سوري کول**: محمد اقبال په نوم یو بندیوان چي د یهودانو په لاس بندیوان سوی ؤ، محمد بن اختر په خپل کتاب کښې د هغه قیصه داسي کوي:

محمد اقبال د ډیرو وهلو او ټکولو نه وروسته یهودي جلادانو ودرولو او د هغه په مرۍ د برمې ماشین کیښود او د ماشین برمه یې ترې بل طرف ته وویسته او د محمد اقبال په خوله دغه جاویدانه کلمه تکرارېده چي: (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ).

**ژباړه**: د الله جل جلاله څخه ماسېوا بل معبود (دعبادت لائق) نسته او حضرت محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی.

د هغه جامې (لباس) په وینو لت پت سوی او د مرۍ د سوري کولو نه وروسته یې د اوسپني سیخ په مرۍ کښې وروا چوه او د هغې په وسیله یې په چت کښې زوړند کړ تر څو چي شهید سو.

**پنځم جز: د زړګونو فلسطیني ماشومانو قتل عام او په دماغي ناروغیو اخته کېدل**:

یهودانو د خپل یرغل په ترڅ کښې د فلسطین په بې ګناه ماشومانو هم دریغ ونکړ او په زرګونو ماشومانو یې قتل عام کړل، ددې نه سربېره پردې د ګڼ شپ هیلکپټرو، غرهار او د ټینګونو، شوبلو او مدرنو توپونو، دغړمبا له امله د زرګونو ماشومانو دماغ مفلوج کړیدي او زیاتره یې په دماغي او عصبي ناروغیو اخته دي چي په دوی کښې (۷۰۰۰) اووه زره زخمیان سوي هم دي.

**شپږم جز: د پیغلو بربنډ مارش**: د نیویارک یو وکیل پروفیسر ارنډ ټاین په خپل کتاب کښې (یهود د نړۍ حاکمان) کښې لیکي: یهودان چي کوم ظلمونه د عربانو سره کوي هغه په هیڅ ډول د هغه ظلمونو نه کم نه دي کوم چي نازیانو د یهودانو سره کړي ؤ.

نو موړی زیاتوي کله چي (۱۹۴۸) د اپریل په (۹) تاریخ باندي یهودانو د دیریاسین په سیمه یرغل وکړ نو د عام قتلان نه یې وروسته د دغه جلوس مخکي او وروسته یې په موټرو، لوډ سپیکران ولګولې او په مختلفو کوڅو، واټونو کښې وربا ندي لوڅ او بربنډه مارش وکړ.

او دا اعلانونه یې کول چي مونږ د دیریاسین د خلکو سره همداسي عمل وکړنو که تاسو خپلي سیمي نه خوشي کوئ نوله تاسو سره به هم دا ډول عمل کیږي یهودانو ددغه ترهګري په ترڅ کښې ( ۱۷۰۰۰ )اوولس زره عربان شهیدان کړل او درې لکه ( ۳۰۰۰۰۰ ) یې د خپلو کورونو او سیمو نه وشړل.

**اووم جز**: **یهودانو د حامله ښځو ګیډې وڅیرلې** :محمد انوربن اختر په خپل کتاب کښې لیکي: په (۱۰) اپریل (۱۹۴۸م) کال د (درګن) او (سټرن) په نامه دوه یهودي ترهګرو ډلو د دیریاسین په بې وزله او تش لاسو مسلمانانو باندي یرغل وکړ ، دغه وحشي قواوي په داسي وحشت سره په سیمه ورننوتې چي هر ذي روح او ساکښ به چي مخي ته ورغلی نو هغه به یې په مرمیو ووشت ،

د کورونو څخه به یې خلک قطار قطار ودرول او بیا به یې د ډیلمي وویشتل.

چي په همدې ترڅ کښې یې بېشمېره انسانان ذبح او قتل عام کړل، په پیغلویې جنسي تېری وکړ،په همدې لړ کښې یوه ښځه یې ذبحه کړه او بیایې ورلره ګېډه څیري کړه ماشوم یې ترې راوویست هغه یې په دیوال وویشت، مړي یې مثله کړل، یو عام قتلان یې وکړ،د کومو ښځو په غوږونو چي به طلا یا د زرو والۍ وې هغه به یې ترې پرېکول د جبر او ظلم بازار یې ګرم کړ.

**اتم جز**: **د سترګو لیدلی حال** :د سنګاپور یو ډاکټر چي د فلسطین دغره په هسپتال کښې د یو رضاکار سرجن په حیث وظیفه اجرا کوله نو موړي د خپلو یاداشتونو په کتابچه کښې لیکي :

په (۱۹۸۲ )کال دستمبرد میاشت په (۱۶) تاریخ د پنجشنبې په شپه خونخوارو یهودانو د صابره او شطیله په کیمپونو یرغل وکړد مظلومو فلسطینیانو په قتل عام یې پیل وکړ،په همدې ترڅ کښې (۲۰۰۰) دوه زره پناګزین هسپتال (روغتون) ته په دې امید راغلل چي د مرګ نه وژغورل سي.

د هسپتال صحن،برنډې او پوړونه د ښځو ، ماشومانو او بوډاګانو څخه ډکي سولې، ټوله شپه د غزه هسپتال چارچاپیره کیمپونو کښې د اورلمبې ختلې او د مرمیو باران جوړ.

په (۱۸) دستمبر د خالي په ورځ د سهار پاوکم اوه بجې وې چي یو عجیب شان منظرۇ د ښځو او ماشومانو اوړده قطارونه د یو نسیف د عمارت مخي ته جوړ وه د دوی شمېرد ( ۸۰۰ - ۱۰۰۰) پوري ۇ چارچاپیره ترې یهودي فوځیانو محاصره جوړه کړې وه ، ددوی سره نژدې د دوی په ورانو کورونو او کنډراتو باندي د یهودانو بلدوزري لګیا وې او دکورونو د چتونو او دیوالونو لاندي ژوندي او نیم ژوندي انسانان یې په همدغه کورونو کښې د خاورو لاندي کول او خپلو ماشومانو او ښځوورته په رڼو رڼو سترګو کتل، د دې نه وروسته د ښځواو ماشومانود قتل عام نوبت راغلی، په همدې ترڅ کښې د یوې ښځي خپل دپیو درودلو کوچنی ماشوم یو غیرملکي ډاکترغېږې ته په دې هیله وروغورځاه چي کېدای سي د مرګ څخه وژغورل سي خو کله چي وحشي فوځیانو ولیده نو هغه ماشوم یې ورته په زوره واپس کړ کله چي په همدغه ورځ د سهار اته بجې سولې نو د نیم ساعت په اندازه د ماشینونو او شټینګنو فیرونه په مسلسله توګه شروع سول مونږ د ښځو او ماشومانو چغې او کوکاري اورېدلې، یهودي سفاکانو دغه مظلوم انسانان د ځیلمي وویشتل او په ابدي خوب یې ویده کړل ،په فلسطین کښې داسي کور نسته چي د یهودو د لاسه یې زندانونه ،کړاونه،او وهل ټکول نه وي لیدلي .

**نهم جز**: **په فلسطین کښې د مساجدو بد حال** :د فلسطین کښې د بې شمېره جوماتونو رنګېدلو او سپکاوی دوام لري، یهودي سفاکانو د مسلمانانو مساجد ،په کلبونو ،سینماګانو ، او غوجلو تبدیل کړیدي .

د (۱۹۴۸م) کال نه تر اوسه پوري (۱۲۰۰۰) دولس زره مساجد رنګ (ویران) سویدي .

دغه پورتنې شمېرنه د اسلامي تحریک یو مشر ریاض صالح الشیخ کړېده،

نوموړی د خپل خطاب په ترڅ کښې وویل: اسرائیل غواړي چي بیت المقدس په بشپړه توګه په یهودي ښار تبدیل کړي، په دې وخت کښې په سلو کښې اتیا فیصده مساجد د رنګېدلو په حال دي .

د بیت المقدس چارچاپیره یې سرنګونه وهلي دي تردې چي په ځینو سیمو کښې د سهار په اذان لوړ سپیکر کښې بندیز لګولی دی لکه په (بیت اللحم) کښې ځکه دوی وایي دغه وخت زمونږ د خوب وخت دی .

که مونږ په فلسطین د یرغل مسئله په مفصله ډول وڅېړو نو په لسګونو جلده کتابونو کښې هم نه ځایږي خو دا یو څو مثالونه وه چې په مختصر ډول د نمونې په ډول ذکرسول.

## یوولسم فصل
## د اسلام پر خلاف د یهودانو ناوړه ارادې

معلومه خبره ده چې په ټوله نړۍ کښې یهودان خونخوار او قتال قوم دی چې د قتل لومړی بنا یې په خپلو انبیآؤ علیهم السلام کړیده لکه قران په دې شاهد دی :

الله جل جلاله فرمایي :(وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ) (البقره/۶۱).

**ژباړه**: دوی په ناحقه باندې انبیاء علیهم السلام وژل.

اوس چې په نړۍ کښې څومره فسادونه،یرغلونه او قتلونه روان دي په دې کښې د یهودانو لاس دی، دوی د مسلمانانو پر خلاف ډېرناوړه عزایم او ارادې لري، بلکې د ټولو انسانانو په ضد ناکاره ارادې لري.

دوی په خپل (تالمود ) نوم کتاب کښې چې د دوی قانون او مقدس کتاب دی او خپل ژوند د تالمود د قوانینو پابند ګڼي لیکي :

۱: یهودان د غوره فرشتو (ملائکو )نه هم الله جل جلاله ته محبوب دي او د هغه عنصرسره اړیکي لري لکه چې ځوی د خپل پلار سره لري.

۲: که یهودان په دنیا کښې نه وایی نولمر به په نړۍ څرک نه وایی کړی او نه به ځمکه باران ورېده.

۳: الله جل جلاله یهودانو ته د ټولو انسانانو په ګټلي مال کښې د تصرف واک وربښلی دی.

۴ :څوک چې یهودي نه وي د هغه مال د متروکې (پاتي سوي میراث) حکم لري او یهودیان اختیارلري چې په هغې خپله قبضه وکړي او د خپلي خوښي تصرف پکښې وکړي چې همدا حکم د غیري یهودي ښځو هم دی.

۵: الله جل جلاله د خپل غوره نسل (یهودانو ) په اختیار کښې ټول حیوانات او انسانان ورکړي دي ځکه چې یهودیانو د حیواناتو دواړو اقسامو ته ضرورت لري چې حیوان ناطق (انسانان)او غیر ناطق دي (چارپایان)، دا ټول زمونږ په اختیار کښې دي چې وغواړو باید خپل خدمت ترې واخلو.

۶ :يهوديانو ته د فائدې په خاطر او غير يهوديانو ته د تاوان او نقصان په خاطر هر ډول دروغ فريب،او د دراغوشاهدي روا ده.

۷: غير يهودو ته په زړه کښې د خواخوا ږۍ اراده کول ناروا ده.

۸: اى يهودانو ! کومه سيمه ستا سو په لاس فتحه سي نو دهغې ځاى ټول خلک واړه او زاړه ،نر او ښځې ووژنئ او هيڅوک ژوندى مه پرېږدئ او ځانو سره يې د بنديانو په توګه مه ساتئ.

۹: په کومه ځمکه چې يهودان سلطه نه لري هغه ناپاکه او نجسه ده او هغه ځمکه پاکه ده چې يهودان پرې سلطه لري.

د يهودانو په تالمودي قانون کښې همدغه ډول د انسانيت پر خلاف عجيب او ناشنا قوانين ذکر دي چې يهودان هغې ته معتقد دي او ورباندې پوره عمل کوي.

تر هر څه نه د اسلام نه خوف او خطر لري او د خپل زوړ عادت سره سم د اسلام او مسلمانانو سره سخته دښمني او کينه لري.

## مأخذونه او منابع

1: احمدزی،پوهنمل زاهدي،دمرگونو سوداگر،چاپ ۱۳۸۵ هش، امیر کروړکتابتون
۲ :ارشد ،مقبول،خفیه رپوٹیں،فاتح پبلیشرز،سال ۲۰۰۱
۳ :ترمزی،بریگیډیر (ر)،سیداحمد ارشاد ،حساس اداری،زاهد بشیر پبلیشر،سال،۲۰۰۴
۴ :ساگر،طارق اسماعیل،RAWاوربین الاقومی دهشتگردی،طاهر پبلیشر،سال،۲۰۰۹،لاهور
۵ :ساگر،طارق اسماعیل،جاسوس،سیوتتهسکای پبلیشرز،سال سپتمبر ۲۰۰۵ لاهور
۶ :ساگر،طارق اسماعیل،خفیه ایجنسیو کی دهشتگردی،ساگر پبلیشرز،سال نومبر۲۰۱۰
۷ :صافی،م فاروق،په اسلامی نړۍ یرغل،چاپځای پیښور،کال۲۰۱۰
۸ :محمدناصرخان،CIAکی خفیه جیلیں،پبلیشرز،سال۲۰۰۷

**دلیکوال لنډه پېژندګلوي**

په (۱۳۶۵)لمریزکال دهلمند نادعلي دچاه انجیرپه کلي کښې وزېږېد .
زده کړه،شپږکلنۍ کښې یې قاعده بغدادي (سېپاره) دکلي پرملاصاحب شروع
کړه،دښوونځۍ دروازه یې وروټکول (۱۳۸۸) لمریزکال کښې یې ښوونځۍ هم
ولوستل،د (۱۳۸۰) لمریز کال څخه یې دعصري تعلیم ترڅنګ دیني زده کړوته هم اوږه
ورکړه،په (۱۳۸۳) لمریزکال کښې دقراءة سندترلاسه کړ،ستړیاته یې ماته ونه منل
(۱۳۹۳)لمریزکال ورته دخوښي،زیرو ،فلاح اوبریالیتوبونوکالؤ په همدې کال
دمولویتوب دستار وتاړه اوهم دهلمندپوهنتون دزراعت پوهنځۍ څخه فارغ سو ،پدې
یې هم بسنه ونه کړه په وادي هلمندپوهنتون کښې دشریعاتوپوهنځۍ پیل کړه هغه یې هم
پای ته ورسول، ترڅنګه دامام ابویوسف رحمه الله دجامع مسجد امام او **ددیوبندیه مدرسې مهتمم دی** چې متعدد دي څانګي لري،دقرانکریم دقراءة او دیني علم په برخه کښې یې
سلګونه قاریان روزلي لا یې هم الهي خدمتګاري دوام لري،ترلسو زیات کتابونه یې
لیکلي دانومیالی شخصیت:
**قاري مولوي انجینر محمدقاسم سجاد دیوبندي حفظه** الله دی،له یوکال راهیسي مي ورسره
ملګرتوب اوشاګردي پیل کړې،الله جل جلاله شاهد دی چې په ملګرتوب سره مي ژوند کښې
ډېرمثبت بدلونونه راغلي،قراءة ،دقران ترجمه اوحدیثونه ورڅخه وخت پروخت زده کوم،
په ملګرتیا یې ویاړم،
الله جل جلاله دي ددې ټولو خدمتونوبدل په دارینو کښې ورکړي زه یې په ژوند کښې
مرستندوي اودعاګوی یم.دالله جل جلاله لورېنه دي جاري وي.
بشپړاحترام شریف الله دوست (سرواني) ،لښکرګاه بُست

**دمؤلف ترتیب شوي کتابونه**

١: تجوید دیوبندي
٢: قرآءة العاصم
٣: الدلیل العاصم
۴: اسلام اودموسیقۍ اورېدل
۵ :اسلام اودږیري پرېښودل
۶: اسلام اوسینګار
٧: اسلام اوپایڅو کښته کول
٨: اسلام اوبدنظري
٩: اسلام اولوبه
١٠: اسلام اوپرده
١١: اسلام ،فلم اوتصویر
١٢: اسلام اودجماعت لمونځ
١٣ :داستاذحق اودشاګردوظیفه
١۴ :دسیرت سیالي
١۵ :ددیني علم پېژندنه
١۶ :فوائدالدیوبندیة في عوامل النحویة
١٧: تقوا داره مؤمن
١٨ :تقوا داره ښځه
١٩ :فتح الطالبین
٢٠: دنوراني قاعدې تجویدي لارښووني
٢١ :عقیقه اوداولاد اساسي حقونه
٢٢: داولاد ،شاګرد اوماشوم سالمه روزنه
٢٣ :معاصرباطل پېژندنه
٢۴: دحزب التحریرپېژندنه
٢۵ :غامدیت اودغامدیانوپېژندنه
٢۶ :دجمهوریت اوداسلامي نظام توپیرونه
٢٧ :دبلک واټرپېژندنه
٢٨: دامریکا داستخباراتي شبکې (سي،آی،اې) پېژندنه
٢٩: داسرائیلود د استخباراتي شبکې (موساد) پېژندنه
٣٠ :دهند داستخباراتي شبکې (RAW - راؤ) پېژندنه

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.